# د خوشحال په کلام کښې ځينې وران کړي شوي نوموُنه
# Some Omitted Names in the Poetry of Khushal

Badshah Room,* Ali Khel Daryab

**Abstract**

In the poetry of Khushal khan khattak certain people have been mentioned by names other than their real names. These names have been twisted, reduced and shortened or completely changed. The names that have been twisted and distorted are usually the names of those persons whom Khushal Baba disliked for some reasons, and that is why he has satirized them in his poetry. Similarly the names that have been reduced are mostly those names which Khushal Baba could not use in their full form in his poetry because of the rules and requirements of metrical composition. The third type of names is the ones which Khushal Baba has completely changed and modified. These are usually the names of his off springs, and he named his progeny as such out of excessive emotional attachment. These names make Khushal Baba's poetry vague and obscure. This paper, therefore, aims at explaining and clarifying the names given to different people in his poetry by tracing their origin and background.

ستر خوشحال د پښتو ادب يو لوے مجتهدوۀ، د هغه اجتهادات د پښتو په نثر او نظم دواړو کښې جوت په نظر راځي . چې زمونږ د ادبياتو لمن ئې پراخه کړې ده .دغه پراخي ن× يواځې په موضوعاتي لحاظ ښکاره ده، بلکې د فکر و فن په بنياد ئې هم خپل ځان په پښتني ادب کښې راځائے کړے دے. او هم دا وجه ده چې په دغه حواله د ستر خوشحال تقليدد هغۀ همعصرو هم کړې دے، متقدمېن هم په دغه لار تللي دي او د جديد دور ليکوالوئې هم په پل باندې پل ايښے دے او دغې سلسلې ته ئې دوام بخښلے دے. د څۀ په برکت چې پښتو شعر وادب تر دې دمه يو اوږد سفرغوخ کړے دے او د ودې او پرمختګ پړاوۇنه ئې سر کړي دے. خو په دغه اجتهاداتو کښې څۀ داسې دي چې هغه صرف د خوشحال بابا

Assistant Professor, Department of Pashto, University of Malakand *

د تخليقاتو پورې محدود پاتې شوي دي او د هغۀ نه پس نورو ليکوالو هغې ته څۀ پاملرنه او توجه نۀ ده کړې . په دغه اجتهاداتو کښې يو د نومونو د ورانولو اجتهاد هم دے.

خوشحال بابا په خپله شاعرئ کښې د ځينو شخصياتو نومونه د هغوي د خپلو نومونو په ځاے په نورو نومونو ياد کړي دي دغه نومونه يا خو وران کړي شوي دي يا مختصر کړي شوي دي او يا بيا پيخي بدل کړي شوي دي. د وران کړ شوؤ نومونو په شا ددغه شخصياتو او کردارونو نه مونږ ته د خوشحال بابا کرکه او نفرت په نظر راځي. چې خوشحال بابا ورسره د معاملاتو په اساس دغه رويه روا ساتلې ده او د هغوي سم دم نومونه ئې وران کړي دي ، چېرته ئې پرې د طنز غشي ورؤلې دي، چېرته ئې ورله د تنقيد او کړنې نوقونه ورکړي دي او چېرته ئې پرې د لعن و طعن باران راښکې کړے دے.

دغه شان کوم نومونه چې خوشحال بابا مختصر کړي دي نو هغو کښې خېنې خو د وران کړ شوؤ په زمره کښې راځي ولې اکثريت ئې د داسې نومونو دے چې هغه خوشحال بابا په خپلو شعرونو کښې پوره په پوره نۀ شو راځايولے يا په شعر کښې د ټول په ټوله نوم راوړل ممکن نۀ وۀ ځکه نو خوشحال بابا د ضرورت شعري تر مخه مجبوراً" هغه نومونه لنډ کړي او مختصر کړي دي.

دريم هغه نومونه چې خوشحال بابا بېخي بدل کړي دي ، هغه عموما" د خوشحال بابا د اولاد نامې دي، چې هغۀ ورته د جذباتي تړون په اساس دغه نامې نورې کړې دی. د دغه نورو کړ شوؤ نامو‌په شا مونږ ته د خوشحال بابا مينه او محبت ښکاري. کوم چې د يو پلار د خپل اولاد سره کيدے شي. ولې په څۀ ځايونو کښې دغه وران کړي شوي نومو نه د اولاد نه هم د نفرت او کرکې تصوير وړاندې کوي. دلته ددغه ټولو ذکر شوؤ نومونو جاج اخستے شي او ددې خبرې سپناوے کولې شي چې خوشحال بابا کوم نوم څنګه وران کړے دے؟ دغه نوم د چا دے؟ او ددې نوم د ورانولو وجوهات او اسباب څۀ وو.

زۀ خوشحال چې د وحدت په مېئو مست شوم
وائم دا چې کاؤس کله ؤ کے کے[1]

دې شعر کښې خوشحال بابا د دوؤ ايراني بادشاهانو تذکره کړې ده. کيکاؤس ته هغه کاؤس وئيلے دے او کېخسرو ئې د کے کے په مختصر نوم ياد کړے دے. دا خبره په خپل ځاے سمه ده ،چې " کے د قديم ايران د بادشاهانو لقب وۀ ، خاص طور سره کېخسرو په دې نامه يادېږي."[2]

خو په ياد کړ شوي شعر کښې د يو ځل په ځاے دوه ځله کے راوړول يا ورکښې د کے اضافه کول دا خبره په ګوته کوي چې دغه کار خوشحال بابا د ضرورت شعري تر مخه کړے دے، ګني په يو بل ځاے کښې هم دغه لقب صرف کے راوړي لکه چې وائي .

چې په وخت ئې د بهار عشرت په مړے دے
بادشاهي ئې مبارک شه لکه کړے دے [3]

دغه شان د کيکاؤس لرغونے نوم هواک شترا وۀ. او د ژوند زمانه ئې ۵۸۴ ق م يادولې شي . ددۀ د بادشاهئ دوره يو نيم سل کالو ته رسي . خو اخر چې د دنيا نه ئې زړۀ موړ شو او خپل نمسي کېخسرو ته ئې تخت و تاج پرېښودو نو د حق او سکون په لټون اووت. د دنيا او ما فيها نه بې نيازه شو. هم دغه خبره خوشحال بابا کړې ده چې هر کله زۀ د وحدت په مېئو مست شوم نو بيا د کيکاؤس او کېخسرو غوندې سترو بې نيازه بادشاهانو نه هم زيات بې نيازه يم .

# ۱ کيکاؤس

"کيکاؤس د فارس د کياني خاندان دوئم بادشاه وۀ ، ددۀ د پلار نامه کيقباد وه . دے د پالار له اړخه د کېخسرو بادشاه نيکه وۀ . دے چې کله د خپل نمسي کېخسرو د بهادرئ د کارنامو نه خبر شو ، نو خپل حکومت ئې هغۀ ته اوسپارو او خپله د پيرئ له وجې ګوشه نشين شو ، فردوسي په خپله شاهنامه کښې ددۀ سره تړلي ډېر روايتونه رانقل کړي دي . چې د رستم او سهراب تر مېنځه جنګونه پۀکښې ډېر حېرانوونکي دي."[4, 5]

"ددۀ د ګدئ ځائے همدان وۀ ، دۀ اول خپل ټول ګاونډي ملکونه رام کړل. بيا ئې د اشوريانو په سلطنت د قبضې په نيت د دارالسطنت نينوا نه محاصره واچواله. خو دغه وخت په ايران د قطب اړخ نه " سيتهيا " قوم حمله اوکړه او کيکاؤس د نېنوا نه مجبوراً محاصره پورته کړه ، سيتهيانو کيکاؤس له ماتې ورکړه خو کيکاؤس هم جنګي چال اوچلوۀ او د هغوي بادشاه ماريس او نور فوځي افسران ئې د دعوت په توګه رااوبلل او قتل ئې کړل. د دوي نه چې اوزګار شو نو کيکاؤس په نېنوا دوباره حمله اوکړه، او نېنوا ئې واخيسته. په ۶۰۶ ق م کښې ده د ارمينيا کپادوسيا او اشوري سلطنت نه علاوه نورې قطبي علاقې هم پخپل سلطنت کښې شاملې کړې . او د بابل حکمران بخت نصر له ئې خپله لور ورکړه . د فردوسي د بيان ترمخه کيکاؤس اووۀ نيمې شله کاله حکومت کړے دے.[6]

# ۲ کېخسرو

کېخسرو د ايران د کياني خاندان يو افسانوي بادشاه وۀ ، دۀ شپيتۀ کاله حکومت کړے وۀ ، د دۀ پلار نوم سياؤش او مور ئې فرنګېس نوميده څوک چې د توران د روايتي بادشاه افراسياب

لور وه، کېخسرو د پلار د قتل نه پس پیدا شو او دهقانانو د ځان سره په پټه اوپاللو ، هر کله چې لوے شو، نو" ګیو " دے او د دۀ د مور کیکاؤس له را ویسته، هغۀ د دۀ د بهادرئ د کارنامو نه دومره خوشحاله شو چې خپل تاج و تخت ئې دۀ تۀ حواله کړو او خپله ئې ګوشه نشیني اختیار کړه. کېخسره د خپل پلار د بدل اخیستلو اراده اوکړه، او د افراسیاب د مقابلې دپاره ئې د خپل فوځ سر لښکري " رستم " ته اوسپارله ، د ډېرو جنګونو نه پس رستم په توران قبضه اوکړه او افراسیاب ئې قتل کړو . [7]

ددې نه پس کېخسرو د بادشاهۍ نه لاس په سر شو او دنیا ته ئې شا کړه. د کابل ، زابلستان او نیمروز صوبې ئې رستم ته ورکړې او د ایران د سرو سپینو مالک ئې د کیکاؤس زوم لهراسپ مقرر کړو. خپله د یو څو کسه امیرانو سره یوې چینې پله روان شو. کومه چې هغۀ د خپلې ګوشه نشینئ دپاره غوره کړې وه کله چې هلته ورسید، نوغائب شو ، دۀ نوي کاله ژوند بیاموند. [8]

## ۳ ملک طالے

په سوات وربړي په سمه شین دے
غرۀ به کوز شي لا نماز پښین دے
بټ د تالي د عبدل لښکرې
خوشحاله زړۀ دې له واړو شین دے [9]
د طالي ملکي تته ائینه ده

چې څهره په کښې لیدے شي رنګا رنګه طالے چرګه نرښځې دے په دیدن کښې
لوے چارخویل لکه د چرګ په هویو کړنګه[10]
د طالي که درته وایم یو کالے دے
ډک ښانک دے د وګړي که یا طالے دے[11]

طالے، طالي یا تالے ـ د هغه نومونو څخه یو نوم دے ، کوم چې خوشحال بابا وران کړي دي. زما په نزد دا نوم طالع مند وۀ ، خو ستر خوشحال ورته طنزاً تالے، طالي یا طالے وئیلے دے.

د پښتو ستر پوهان عبدالحئ حبیبي د ددې نوم په حواله لیکي

" طالي د یو ملک نوم دے."[12]

دغه شان استاد همېش خلیل خپله رائې داسې څرګندوي .

د تالے مطلب ملک طالے دے. داهم د سوات د هغه وخت په مشهورو ملکانو
کښې وۀ.[13]

لکه څنګه چې ښکاره ده ملک طالعمند د خپل وخت یو یاد ملک وۀ او د یوسفزو سره ئې تعلق لرلو. ځکه خو ستر خوشحال په خپلو اشعارو کښې د هغۀ یادوؤنه کړې ده چې د هغۀ د شخصیت د عظمت اندازه ترې په اسانه لګیدے شي.

سوات نامه جواب نامه کښې ښاغلي رحیم شاه رحیم د نورو څو مشرانو سره د ملک طالع ذکر په دې لفظونو کښې کړے دے. چې د موصوف د زور او د پښتنې ننګ ښودنه کوي. وائي

مانکي خان ملک طالع که مصري خان وۀ
هر یو کس په خپل خپل ځائے مرد میدان وۀ
د مغلو دشمنی ته تړول په ډله
سره تېر وو په خپل سر او په کوډله[14]

## ٤ ملک عبدل

اوس په درست اولس کښې ښۀ ملک عبدل دے
که ئې زر کا خدائے څهره په مرګ بد رنګه[15]

چې عبدل عبدل بالۀ شي په کښې کټ دے
اوس بساند کوټه د کلي کټوي څټ دے[16]

ملکان رالره راغلل یوه ډله
ورسره ملک عبدل وۀ ږیره کله[17]

د سوات نامې مؤلف د ملک عبدل په حقله په خپله لیکنه کښې دا نوم عبدال یا اودل یادوي هغه څۀ دا رنګ لیکي . " ملک عبدال .... (اودل) د خوشحال خان په ژوندانه کښې د سوات د یوسفزو یو خان دے (دغلته) خوشحال خان په ۱۰۸۶هـ کال د سوات په سفر کښې ورغلي وۀ .[18]

تاریخ مرصع د ملک عبدل ذکر څۀ دا رنګ کړے دے .

ملک عبدل ، اخترے، طالے مالره راغلۀ چې مونږ هم د همزه په سبب تر تا پورې مختوري یو. د لاسه مو لښکرې وغېره هېڅ اونۀ شو. اوس همزه مخ تور کړ، مغلي شۀ، زوے لنګر کوټ لره واستوه، اوس هر چې تۀ وائې هغه به اوشي.[19]

د عبدل خان خپل نوم عبدالله وۀ ، مشهوره ده، چې د اولياو کرامو او صوفيانو د ډېروخدمتونو او همنشينئ په سبب دمرتبې او کراماتو خاوند شوے وۀ، د سوات په دمغار کلي کښې اوسيدو. په خپل وخت د سوات د يوسفزو په لويو سردارانو کښې وۀ. خوشحال خان چې کله سوات ته راغے، نو اول د همزه خان او بيا نبغ د ملک عبدل خوا له دمغار ته لاړشو، د دواړو ملاقات اول ځل په دمغار کښې شوے وۀ. ملک عبدل ته ئې د خپلې رائې اظهار اوکړو. خو هغۀ پرې د تېرو بدو او د يوسفزي قام د دشمنئ په سبب زيات يقين نۀ لرلو. د ملک عبدل اولاد په سوات نبک پي خېلو علاقه کښې په اودل خېل مشهور دي. اوس هم په کښې ډېر ستر ستر خانان موجود دي. په تپه او دوتر تر اوسه پورې په خپله ټوله علاقه کښې د هر چا نه زيات طاقتور دي. [20]

## ۵ ويسه

که ويسه وۀ که رامين که مجنون وۀ که ليلا[21]

دغه نوم ويسه نۀ دے بلکې ويس دے. کوم چې خوشحال بابا بدل کړے دے.د لرغوني وختونو دا دواړه عاشقان د ايران د خاورې سره تعلق لري .

" فخرالدين اسعد گرگاني د الهي' نامې نه د " ويس رامين" يو زړۀ راښکونکے حکايت تاليف کړے دے. کوم چې زمونږ دپاره ډېر نوي معلومات لري. " [22]

" ويس د رامين د معشوقې نامه ده. د ويس پلار د خراسان د شاه موبد بادشاه سره په جنګ کښې قتل شوے وۀ. ددې د مور نوم شهرو يا شېر بانو وۀ. څوک چې د خاوند د مرګ نه پس شاه موبد د کوهستان ملکه په دې شرط مقرر کړه، چې هغه به خپله لور ويس شاه موبد ته ورکوي. ولې شهرو د ويس وادۀ د خپل ورور `` ويرو" سره اوکړو. خو شاه موبد د دولت په زور ويس د خپل محل کړه . ولې ويس د هغۀ سره خوشحاله نۀ وه ، ځکه چې شاه موبد د پيرئ په عمر کښې د هغې د ځوانئ غوښتنې نۀ شوې پوره کولے. ځکه نو ويس د شاه موبد نه خپله توجه د يوې دائي د جادو په ذريعه `` رامين `` ته اوګرځوله. او رامين د هغې د مېنې او حسن له خاطره هغه څۀ اوکړۀ ، کوم چې يو عاشق د خپلې معشوقې دپاره کولے شي. [23]

نۀ حميد شته نۀ کجے شته نۀ کاچو شته
څۀ له نورو سره سر وهې له سنګه[24]

## ۶ کجرے

په دې پورته شعر کښې د خان کجو یا کجو خان درانه نامه خوشحال بابا مختصر کړې ده.

" خان کجو یا کجو خان رانړیزے هم د پښتنو یو مشهور مشر او مؤرخ تېر شوے دے. د دۀ د کورنۍ به ډېر زیات قدر کېدو، دے د ۹۰۰ هـ خواشاه تېر شوے دے. "[25]

او د بهزاد چې زوے د سدو وۀ، یو فرزند وشۀ ورته ئې خان کجو وئیل . واړه یوسفزي مطیع او فرمانبردار د دۀ وو. وائي چې خواجه خضر پرې پېښ شوے وۀ، او د شهر شاه بادشاه سره ئې دم د مخالفت وهلے وۀ.[26]

د پښتنو په هغه جنګ کښې خان کجو مشر وۀ، کوم چې د زاړۀ نوښار سره خوا کښې شېخ ټپور سره شوے وۀ، ترکلانو، ګدون، محمدزو، او اتمان خېلو قبائیلو په شریکه د کجو خان مشري منلي وه. او دغه وجه وه چې د نوښار سره خوا کښې د جنګ دپاره هم ددغه قبیلو نه شا زلمي یو لک خواوشا په ۹۵۷ هـ کښې راغونډ کړل. د پښتنو دغه دروند مشر د شاه منصور (صوابی) سره شپږ میله فاصله کښې په یوه اوچته غونډۍ ښخ دے. [27]

کجو خان د رانړزئ د مشهور خېل ازي خېل سره تعلق لري. وئیلې شي چې ددغې کورنۍ په دغه علاقه کښې ډېر لوے نوم خور وۀ، کجو خان د شېخ ملي نه پس په پښتنو کښې ډېر یاد سړے وۀ. [28]

د خان کجو په حقله وئیلې شي چې دۀ د پښتنو یو تاریخ هم لیکلے دے. په دې لړ کښې راورټي لیکي .

" په پښتو کښې یو بل تاریخ خان کجو رانړي لیکلے دے، دغه تاریخ په ۱۴۹۴ء کښې لیکلے شوے دے."[29]

## ۷ مهموترے

څۀ عظمت څۀ مهموترے دے
چې په مرګ به څوک ویاړي[30]

مهموترے د محمود (محمودے) وران کړے شوے شکل دے. د دۀ د پلار نوم حکیم وۀ ، او عظمت د دۀ ورور وۀ. مهموترے د بهرام کلک ملګرے وۀ. او د هغۀ په پره د خوشحال په خلاف جنګېدو. تاریخ مرصع ئې د ``توتکي درې" په انښته کښې څۀ دا رنګ ذکر کوي.

عظمت او يو محموتړے د حکيم زوے دوي درې سوه سوارۀ لکه کړه. ما توره اوکښلې وه. پرې راغلم تر ما تېر شۀ، اشرف خان ګزار د نيزې لکه وۀ هسې توره ئې اوکښه. کوږ شۀ ولې پرې نۀ وت. عابد خان په نېزه اوواهۀ ، د اسه پرې وت. هسې توره ئې اوکښه. ګزار وته جوړ شۀ، په هغه محموتي پسې ، هغه ئې هم پرېوست. [31]

## ۸ ميروګے

درخو خود په ادم خان باندې شېدا وه
تر دا ميان د ميروګي ژبه بلا وه[32]

ميروګے د ميرو اسم تصغير دے ، چې خوشحال بابا د ميرو په ځاے په کار راويستے دے.

ميرو د ادم خان خوږ او غرضی دوست دے. ادم خان د ميرو په ملګرتيا کښې د بسکی د وادۀ په غونډه کښې شريکېږي.........او ادم خان د بسکی په وادۀ کښې په درخو مينئېږي. که ميرو نه وې نو د ادم خان درخانی مينه به دومره کمال ته نۀ وه رسيدلې.[33]

" نقل دے له ميرو نه چې د ادم خان ډير اشنا او خاص ملګرے وۀ. "[34]

ددې بره ذکر شوؤ بيانونو په رڼا کښې مونږ وئيلے شو. چې ميرو د ادم خان ډېر نزدې ، اعتباري او کلک ملګرے وۀ.ځکه خو د ادم خان درخانی په ټوله قصه کښې ميرو په ادم پسې لکه د سېورې ورپسې دے. چېرته ئې هم يواځې نۀ پرېږدي. په سخته او مشکل کښې ميرو د ادم خان سره د خپلې کلکې ياری ثبوت ورکوي .[35]

هغه ملک واړه جنان دے
چې پکښې د بابا جان دے[36]

جان دا نوم خوشحال بابا خپل يو زوي ته د پلارنی مينې په بنياد اخيستے دے. په دې حقله ستر خوشحال شناس دوست محمد خان کامل وائي .

په تاريخ مرصع او فراق نامه کښې چې د خوشحال د زامنو کوم فهرست راغلے دے. د هغه ترتيب له مخې دغه له عبد العزيز خان سره سمون خوري.[37]

جان (عبدالعزيز خان) د خوشحال بابا زوے دے. چې د جان په نامه هم ياد کړې شوے دے. او په وړوکوالي کښې مړ دے . افضل خان خټک ئې د زوکړې په لړ کښې ليکي . تاريخ د عبدالعزيز خان او عبدالقادر خان چې عبدالعزيز په طفوليت کښې مړ دے، دادے

عبدالعزیز خان که کنون جان و هوش ماست
درنیم شب به پنجم ذوالحجه زاد بس [38]

ددغه بیت نه جوتېږي چې عبدالعزیز خان په کال ۱۰۶۳ هـ / ۱۶۵۳ ء(د ذوالحجې په پنځمه) زېږیدلې دے.

## ۹ باز

هم شنقار دے هم شاهین دے
هم ښۀ باز لرم لک غاړ ي[38]

راته درست د دهلي ښهر ؤ بوستان
چې په کښې وو باز باقي سعادت خان[39]

هغه ملک سره تل راز دي
چې په کښې د بابا باز دي[40]

باز هم د هغه نومونه نه یو دے کومو کښې چې د ستر خوشحال مینه جوته لیدے شی.
باز (شهباز خان) او بختناک دواړه د خوشحال خان زامن او له یوې موره دي. ددوي د ادبي فعالیت او اثارو په باب چا تر اوسه څۀ نۀ دي وئیلي. خان د باز په باب یو ځاے وئیلي دي.

چې ئې ورځ او شپه په ما باندې یوه کړه
دریغه دریغه باز و جتې و صدر خانه[41]

تاریخ مرصع د باز ذکر د بختناک سره یو ځاے داسې کوي.

او شهباز خان او بختناک چې مور ئې لور د صاحب خان ولد بوچه خان ولد ملک باره مهمندزے د نوښهر وه.[42]

د تاریخ مرصع د مخونو ۳۱۰ او ۳۲۲ د واقعاتو نه دا خبره راډاګې ته کېږی چې باز (شهباز) د خپل پلار سره په دغه قبیلوي جنګونو کښې کلک ولاړ وۀ، ولې د پلار د مړینې نه پس ئې دافضل خان سره تعلقات خراب شوي دي ، ځکه خو په کال ۱۱۲۵ هـ کښې شهباز خان د افضل خان په زندان کښې لیدے شي.
په سن زر سل پینځه ویشت میاشت د جمادي الاول عبدالقادر خان او شهباز د فرزندانو سره عبدالله او محمد مې واړه قید کړل. مفسدان دوي وو. فساد له دوي نه وۀ، چې دوي دلې په قید شول، فساد درهم برهم شۀ.[43]

## ۱۰ بدروز

پنډ بد روز بکر حېران بهادر خان
هدايت ترين سوخته ؤ تر دا ميان[44]

په دې شعر کښې د بد روز نه مراد فېروز دے، ځوک چې د خوشحال بابا ترۀ وۀ.پوره نوم ئې فيروز خان دے.

" په دې نظم کښې فېروز خان ته طنزا" بدروز وئيلي شوي دي."[45]

" ددۀ د مور نوم نيک زن وه، او په قام کهتره وه، د فېروز خان پلار يوسف خان نومېدو. يوسف خان چې مړ شو نو د فېروز خان مور د هغۀ تره يحيیٰ خان په نکاح واخيسته."[46]

د فېروز خان شپږ زامن وو. ددۀ يوه ښځه غوره خېله وه......د فېروز خان دوه درې زامن له وينزې نه وو.... کله چې شهباز خان حق اورسيد نو دغه وخت فېروز خان په هندوستان کښې وۀ، چې دا خبر ئې واورېد نو په تلوار راستون شو.

د خوشحالؔ د نورو ترونو په رنګ فېروز خان هم دا نۀ خوښوله چې د هغوي په موجودګئ کښې دې خوشحال د خټکو سرداري اوکړي. ځکه نو د خوشحالؔ د ګرفتارولو په سازش کښې شريک شو....دغه شان فېروز خان په هغه سازش کښې هم برابر شريک وۀ، کوم چې بهادر خان او ضياء الدين د اشرف خان نه د سردارئ اخيستو په ترڅ کښې جوړ کړے وۀ. ددغې سازش تر مخه دوي د امير خان خوافي ورارۀ بنګالی خان مصلحتی کړو. امير خان خوافي ته وراغلل او سرداري ئې د اشرف خان نه واخيسته او په بهرام خان ئې اوسپارله.[47]

## ۱۱ جتې او عثمانے

چې اول ماتې ئې ګډه په سورو کړه
په سورو کښې چار د جتې د عثماني وه[48]

جتې د يحيیٰ خان د مينې نوم وۀ ، په فراق نامه کښې چې د سينګاؤ د پناه ګزينو په ياد کښې کومه مثنوي ليکلې شوې ده. هغې کښې د سعادت خان ، بهرام او نظام نه پس د جتې نامه راغلې ده . ځکه نومونږ وئيلے شو. چې د خوشحال بابا په زامنو کښې جتې څلورم دے. او که د اشرف خان نه ئې رااخلو نو بيا جتې په پنځم نمبر راځي. [49]
افضل خان د يحيیٰ خان د زوکړې په حواله ليکي.

"يحيیٰ خان چې تاريخ دده او شهباز خان د تولد په دا يوه مصرعه کښې راغلې دے . تاريخ

گلے باغ را زاد آزاد خان[50]

ددغه گلے په ځاے کامل صيب گل ليکلے دے چې په دې صورت کښې بيا د مصرعې نه ۱۰٦۵ هـ کال راوځي.

د يحيیٰ خان مور څښتنی له تپې د الک خېل لور وه. لور د الف ولد ملک سرور ولد ميرک وه.[51]

## ۱۲ عثمانے

"ملا عثمان د خوشحال خان يو جوخت او کلک ملگرے وۀ. چې د خوشحال د گرفتارۍ په اوان هغه ئې په سرائې کښې ذکر کوي. چې ئې پنج سيري بېړۍ په پښو په سرائې ورويستم نو دغه وخت ډير سخت ساعت وۀ، چې ما خپل نزدې دوست عثمان او زينو او د خېل خانې يو څو نور کسان اوليدل چې زما ليدو له راغلي وو. .. دغه رنگ د ډودې په جنگ کښې هم د عثمان ذکر کوي چې يحيیٰ خان او عثمان وړومبي کسان وو چې د شير محمد خان بنگش په سورو ئې گذارونه اوکړل او د جنگ اغاز ئې اوکړو".[52]
د اشرف خان د گرفتارۍ په موقعه چې افضل خان ښکار له تلے وۀ ، تاريخ مرصع په دغه حواله د عثمان د وفادارۍ تذکره داسې کوي.
يو ملا عثمان خداے تعالیٰ ئې غريق د بحر رحمت کړه چې دے نمک حلال قديمي د دواړو خانانو وۀ، خپل کور خپل مال ئې هر څۀ تر شا وو، راغلے مسلح په دروازه کښې د محل ولاړ وۀ. [53]

## ۱۳ مالو او جلو

څوک مالو غوندې جلو غوندې پيدا شي
سراسر واړه نابود او نا پکار [54]

دې شعرونو کښې د مالو نه مطلب کمال خان او د جلو نه مراد جلال خان دے، دواړه د خوشحال بابا زامن دي چې خوشحال بابا ترې گيله مند دے، او نومونه ئې ورله وران کړي دي.

" کمال خان او جلال خان دواړه د خان زامن دي. د ناز نومونه ئې مالو او جلو دي. " [55]

کمال خان د وينځې له نوسه زېږېدلې وۀ، خوشحال بابا ددۀ د زوکړې قطعه داسې وئيلې ده.

عمر م به چهل رسيد چون زاد کمال
در ماه حمل کاف و جيم ابجد
تاريخ ولادتش چو جستم ز حروف
فے الحال از غين و سين وبا سرزد [56]

" د غين و سين و با" نه ۱۰۶۲ هـ کال رااوځي . په دې حساب کمال خان د ۱۰۶۲ هـ ق کال به جمادي الاول د (حمل۲۵) او د ۱۶۵۲ ء کال د اپرېل په ۱۳ زوکړي دي. [57]
د تاريخ مرصع نه معلومېږی چې امان الله، حسن خان، او صالح محمد د کمال خان زامن وو. [58]
تر کومې چې د جلال خان تعلق دے، نو ددۀ د پيدا کېدو تاريخ د نورو دوؤ وروڼو سره خوشحال بابا داسې رقم کړے دے.

مارا خدا چو عادل فرخنده فال داد
تاريخ او بخوان که بفرخنده فال زاد
او درجميد ثاني اندر دوپنج و با
زاده است جعفر از پس عشرين و يک زياد
از مولد خجسته جعفر چوگه گذشته
آمد جلال و باب فرخ بردلم کشاد [59]

" بفرخنده فال زاد" لکه چې اصل کښې دے. = ۱۰۶۴ هـ خو که ``به" د `` فرخنده" نه بېل اوليکلے شي نو ۱۰۶۹هـ به شي.[60]

## ۱٤ صدو

راشه گوره خلقه نصيب په څو خوري
تورې نور ځوانان وهي منصب صدو خوري [61]

د صدو په حقله دوست محمد خان کامل ليکي .
صدو د خوشحال خان بابا د يو زوي مخفف نوم دے. غالبا سعادت خان ، صدر خان نۀ دے. ځکه چې يو بل نظم کښې سدو يا صدو او صدر دواړه مذکور دي. نو صدو او صدر دوه کسان دي. [62]

## ۱۵ دل او عبدل

ښهٔ زوے د بابا دل دے
تل دي ژوي په جهان [63]

همګي ځوانان زما د زړهٔ ارمان دي
په کښې بېله د عبدل تانده ځواني ده
د غليم سره په اس غاړه غړئ شو
د عبدل د مړنتوب بخره کاني ده [64]

دل او عبدل مراد ، عبدالقادر خان خټک دے. دغه دواړه د ښاغلي د ناز او ميني نومونه دي.وړومبې شعر دعائيه دے او په نورو دواړو شعرونو کښې د ګنبد په جنګ کښې د عبد القادر خان د بهادرئ او ځوان مردئ ذکر دے.

"عبدالقادر خان خټک د پښتو ژبې د نوميالي شاعر خوشحال خان خټک زوے وهٔ. دے په ۱۰۶۳ هـ (۱۶۵۳ء) کښې زيږيدلے وهٔ، .... دے طبعا" يو صوفي منش غوندې سړے وهٔ، او په ګټ کښې د ناستې ، زهد، او رياضت ژوند ئې خوښ وهٔ، او دغه وجه وه، چې په ۱۱۲۴ هـ کښې په نوښار کښې ګوشه نشين شو. [65]

هغه د پښتو د اولې درجې په اديبانو کښې د يو ځانګړې مقام مالک دے. هغه د يو قادرالکلام شاعر نه علاوه يو ډير ښهٔ نثر نګار هم وهٔ، او د شپيتهٔ کتابونو د نظم او نثر مؤلف وهٔ. [66]

وئيلے شي چې ددهٔ د خپل ورارهٔ افضل خان سره څهٔ زړه بداوے راغلے وهٔ، او ددې وجه دا ښودله شي چې دهٔ د هغه مشري نهٔ منله ،.... د دوي د مخالفت په سلسله کښې دې پورې وئيلي شوي دي چې عبدالقادر خان په اخره کښې د افضل خان د لاسه يا دده په ايما اووژلے شو. [67]

## ۱٦ نجو

خالد خان نجو شاکر طاهر دا هم دي
مجاهد کامران همه شهٔ برخوردار [68]

په دې پورته شعر کښې د خوشحال بابا د نورو زامن سره د نجو ذکر هم کړے دے. نجو د نجابت خان وران کړے شوے شکل دے.

" نجابت خان (نجو) ، شادمان خان ، پير خان ، دا ټول د خوشحال خان د وينزو نه زيږيدلي زامن دي." [69]

" نجابت خان چې د ناز نامه ئې نجو ده. د تاریخ مرصع د لیکنو نه څرګندېږي، چې د افضل خان د سرداری په د هغه کلک ملګرے وۀ، او د بهرام خان خلاف ئې د هغۀ دپاره هڅې کولې. ولې د ۱۱۳۰هـ کال نه پس واقعات داسې ښائي ، چې نجابت خان د افضل خان خوا پرېښې وه. او د هغۀ سره د مرستې په ځائے ئې هغۀ ته بلا مشکلات پېدا کړي وو." [70]

## ۱۷ شیرا

شاهي بیګ ساغرے په تن ملک میرے دے
تر شېرا اول ددۀ کړې کار تمام [71]

دې شعر کښې خوشحال بابا شیر محمد خان بنګش ته طنزا" شیرا وئیلے دے.

" شېر محمد خان نسلاً بنګش وۀ. په خپله قبیله کښې د لوے نامې جامې خاوند وۀ، ددځ مور بي بي دور نومیده. " [72]

ددۀ د یو ترۀ نامه بهادر خان او د بل نوم لعل بېګ وۀ، ... د مهابت خان د صوبه داری په اوان شېر محمد خان ګرفتار کړے شوے وۀ.[73]

" اورنګ زېب عالمګیر دے اوؤلس اتلس کاله په هندوستان کښې خوار وزار اوساتلو، او کله چې جسونت سنګهـ او شجاعت خان د یو لوے فوځ سره د پښتنو د مقابلې دپاره راتلل، نو دے هم ورسره راغے". [74]

شېر محمد خان د کوهاټ په جنګ کښې دریا خان له ماتې ورکړې وۀ، په دغه ګټه ورته اورنګ زېب عالمګیر د شېرخان خطاب ورکړے وۀ. خوشحال خان ته ئې هم د ګنبت په انبته کښې شکست ورکړے وۀ، ولې خوشحال خان دغه بدل ترې د ډوډې په جنګ کښې واخیستو.

## ۱۸ علائي

بیا له پسه قطب الدین د علائي وۀ
چې همېش ئې مخ په عېش او په عشرت وۀ[75]

علائي د هندوستان د لوے او نامتو بادشاه علاؤ الدين خلجي مختصر کړے شوے نوم دے.
دۀ ته سکندر ثاني هم وائي . دے د سلطان جلال الدين فېروز شاه خلجي ورارۀ او زوم وۀ. [76]
دے د جلال الدين د ورور شهاب الدين مسعود خلجی زوے وۀ، ..... د علاؤالدين د ابتدائي ژوند او بيا د ځوانی د عمر حالات د نوم ورکی په تيارو کښې دي. [77]
دے د دېريشت کالو په عمر کښې په تخت کښېناستو او د خپلو بې مثله صلاحيتونو ، تدبيرونو او قوت په وجه د پينځه شلوېښت کالو په عمر کښې د اقتدار منتها ته اورسيد، د ښځي لاندې درجې نه ئې دومره ترقي اوکړه. چې قرون وسطیٰ کښې د هندوستان د عظيم ترينو حکمرانانو په صف کښې اودريد. د يو مضبوط او ترقي يافته فوځ له برکته ئې ملکي حکمرانان د خپلې مخې لرې کړل. او هر بغاوت ئې اوچقولو. د محصول د منظمې حکمت عملی په وجه ئې هغه بازارونه په ځاے اودرول. چې نرخونه به ئې د سترګو په رپ کښې بدليدل رابدليدل او دغه رنګ ئې د يوې مستعدې مشېنرۍ په ذريعه په ډېره مؤثره طريقه شل کاله حکومت اوکړو.[78]
دۀ ډېره زياته ناوزګاره او د ستومانۍ ډکه زندګي تېره کړې ده.او اخر د دست په بيمارۍ چې غالبا" د ملک کافور د ورکړې شوؤ زهرو په بناء ئې په ۶ جنوري ۱۳۱۶ ء کښې سترګې پټې کړې. [79]

## ۱۹ زينو / دادين

نۀ به بيا زينو دادين وي
نۀ به بيا اسونه زين وي [80]

زينو د زين خان او دادين د احمد دين،نورالدين يا محمد دين وران کړي شکلونه ښکاري. دا دواړه د خوشحال بابا نزدې ملګري او د مجلس ياران وو. او خوشحال بابا ئې نامې د شعري مجبورو له مخه مختصر کړې دي.
تاريخ مرصع د بياض په حواله د زينو ذکر داسې کوي .

"زينو وغېره ياران راغلۀ." [81]

دوست محمد خان کامل د دادين په حقله ليکي.

دادين د خوشحال خان يو مصاحب او د مجلس يار وۀ. [82]

د خوشحال بابا د ژوندانۀ دحالاتو نه دا خبره راډاګې ته کېږي چې زينو او دادين د هغه سره نۀ يوائې په راحته کښې ليدے شي ، چې په زين کړو اسونو چکرې لګوي عېش کوي او د ژوند نه خوند اخلي بلکې دغه دواړه ياران مونږ د بابا سره په تنګځه کښې هم وينو او په خانداني يا قبيلوي جنګونو کښې د خوشحال بابا سره اوږه په اوږه جنګيدلي دي او چېرته ئې هم د لالچ اسره نۀ ده کړې . هم دا وجه ده چې دادين او زينو تر اخر وخته پورې د بابا پلويان پاتې شوي دي او د يارۍ دوستۍ او پښتونولولۍ ثبوت ئې ورکړے دے.

## ۲۰ مدو

که يو ځو ګاهه ژوندے ووم په جهان کښې
زر به واورم د مدو د بابا حال [83]

دې شعر کښې د مدو نه مراد مکرم خان دے. ځوک چې د بهرام خان زوے اود خوشحال بابا نمسے وۀ. د پلار په ځير د بهرام خان دے زوي هم د خوشحال بابا زندګي تر اخر وخته پورې په عذاب کړې ده. او په هغو ټولو جنګ جګړو کښې ئې د نيکۀ خلاف برخه اخيستې ده کومې چې بهرام خان د بابا سره وخت په وخت کړې دي. افضل خان خټک ليکي

" نور بهرام خان مکرم خان زو ے په خان باندې تعين کړ چې زولنې يوسه خان په قيد کړه خان هم دا فوځ اوليد چې راغے يو ګوهر خان نصرت خان ورسره وو نور ئې ټوپک واخيستل د غرۀ اړخ ته شول" [84]

دغه شان د تاريخ مرصع د مخ ۵۰۱ ،۵۰۳ ، ۵۰۶، او ۵۰۸ دخوشحال خان (حيات وفن) مخ ۳۱۰ او ۳۱۱ د ګلشن روه د مخ ۵۰ او د پښتون کون د ۵۶۵ مخ دا خبرې مخې ته راځي چې مکرم خان د پلار په حکم په نيکۀ پسې زنځيرونه په لاس ځي خو ناکامه ستنېږي. ولې په دوئم وار ئې بيا هم لېږي ولې مکرم خان په خپل مقصد تر لاسه کولو کښې پا تې راځي. اګر چې تر اخر وخته پورې ورته هغه په ځاؤ کښې ناست دے لښکر ئې ورته اچولې دے خو د غرونو دغه اتيا کلن زمرے ئې په زنځير کړے نۀ دے. هم دغه واقعات وو چې مکرم خان ئې د خوشحال بابا په نظر کښې `` مدو `` کړے دے او د کرکې يا د ناخوښۍ اظهار ترې کوي.

## ۲۱ سباکی

که د واړو پښتنو راته تسلیم دے
زۀ خو بیا د سباکی انا خښتک یم [85]

بولاق که هر څو خټک یادیږی
د سباکی د لوریه بد دي [86]

په دغه شعرونو کښې بابا د سباکه نوم په سباکی بدل کړے دے چې شعري مجبوري په کښې لیدے شي .سباکه یا سباکی د خټک قبیلې مشره نیا وه . دا د رنګه توره وه او د خټکو د مشر نیکۀ لقمان کورودانه وه. وړومبے شعرد یوې اوږدې قصیدې نه اخیستے شوے دے په دغه ټوله قصیده کښې بابا د پښتنو د ټولو قبیلو نه ګیله کړې ده چې هغوي بې ننګه دي او د مغل خلاف زما مرسته نۀ کوي، زۀ د ټولو پښتنو دپاره لګیا یم خو دوي زما ملګرتیا ته نۀ دي تیار، هم په دغه ضمن کښې ئې دا شعر وئیلے دے چې که دا ټول پښتانۀ زما پلویان وي زما رضا ئې کولے نو دا په بیا داسې وے لکه زۀ چې د سباکی خښتګ ووم چې ټول پښتانۀ به ماته تسلیم وو . ددې شعر نه داسې بریښې لکه چې ټول پښتانۀ د سباکی نه زیږیدلي وي یا په نورو لفظونو کښې چې سباکی دټول پښتنو نیا ده. خو په حقیقت کښې داسې نۀ ده . سباکی د تورمان او بولاق مور ده چې ددغې کسانو خټک نسل ترې خور شوے دے. د سباکی په حقله تاریخ مرصع لیکي

" هغه جل چې لقمان خپل ځان ته غوره کړه او نوم ئې ددې په سبب خټک بیاموند وائي چې نوم ئې سباکه وه. رنګ ئې تور وۀ، قوي هیکله هوښیاره وه. دوه فرزندان د لقمان ترې پیدا شول. یو تورمان بل بولاق ، تورمان د پلار په رنګ وۀ او بولاق سیاه فام په رنګ د مور. " [87]

دوئم شعر کښې خوشحال بابا د بولاقو تذکره کوي چې دوي په خوي او رنګ کښې نیا ته تلي دي ، ښۀ نۀ دي بلکې بد خصاله دي.

دوست محمد خان کامل مومند د سباکی په حقله خپله رائې داسې لیکي.

" سباکه د لقمان عرف خټک (چې دخټکو نیکۀ دے) ښځه او د خټکو انا (نیا) وه. دا لفظونه زما په خیال سباکه انی دي ، ځکه چې ځټک نیا ته انی وائي." [88]

زۀ د خوشحال شناس محترم دوست محمد خان کامل صیب دغې رائې ته احترام لرم خو زما په نزد سباکی اسم په خپل ځاے سم دے کوم چې د سباکه نه مشتق دے سباکه د زرګرې په معنو کښې مستعمل دے او خوشحال بابا ډېر ټیک ټاک په کار راویستے دے.

# حوالې

[۱] خټک، خوشحال خان . د خوشحال خان خټک کليات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، اداره اشاعت سرحد پېښور، ۱۹۶۰، ۳۸۱ مخ

[۲] همدغه کتاب، او همدغه مخ

[۳] همدغه کتاب، ۶۰۵ مخ

[٤] Percy Sykes, A History of Persia, Macmillan, London, 1930, v.1 , p 137

[۵] فېروز سنز انسائيکلو پيډيا، فېروز سنز لمېټيډ لاهور، ۱۹۹۲ ء، ۴۲۸ مخ

[٦] همدغه کتاب، ۸۱۹ مخ

[۷] نظامي بدايوني، مشاهير مشرق، تخليقات لاهور، ۱۹۹۹ ء ۴۲۲ مخ

[۸] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۷۴۱ مخ

[۹] همدغه کتاب، ۸۴۷ مخ

[۱۰] خټک ،خوشحال خان، سوات نامه، مرتبه هميش خليل، خوشحال ثقافتي جرګه اکوړه خټک، ۱۹۸۷ ء، ۶۷ مخ

[۱۱] خټک، خوشحال خان، سوات نامه، مرتبه عبدالحئ حبيبي، د افغانستان د علومو اکېډمي کابل، ۱۳۵۸ لمريز کال، ۳۰ مخ

[۱۲] سوات نامه مرتبه هميش خليل، ۱۱۷ مخ

[۱۳] رحيم شاه، رحيم، سوات نامه جواب نامه، شعېب سنز پبلېشرز منګوره، ۲۰۰۶ ء ۱۰۲ مخ

[۱٤] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۸۴۷ مخ

[۱۵] سوات نامه مرتبه هميش خليل ۀ ۶۷ مخ

[۱٦] همدغه کتاب، ۷۶ مخ

[۱۷] سوات نامه، مرتبه عبدالحئ حبيبي، ۳۰ مخ

[۱۸] خټک، افضل خان، تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، س.ن، ۳۲۷ مخ

[۱۹] رحيم شاه، رحيم و ملک عبدل، ناچاپه مقاله، ۱ مخ

[۲۰] دخوشحال خان ختک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۰۳ مخ

[۲۱] شيراني، حافظ محمود، مقالات حافظ شيراني، مجلس ترقي اردو ادب لاهور، ۱۹۷۰ ء، ج ۵، ۶۷۶ مخ

[۲۲] علي اکبر، لغت نامه، دانشگاه ادبيات تهران، ۱۳۴۳ هـ ش، شماره مسلسل ۹۹، ۱۲۶ مخ

[۲۳] دخوشحال خان ختک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۸۴۸ مخ

[۲٤] بي بي مريم، د پښتو نثر تاريخي او تنقيدي جائزه، ناشر نۀ لري، ۱۹۸۶ ء ۵۵ مخ

[۲۵] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۶۱۰ مخ

[۲٦] محمد افضل رضا، د پښتو د نثر تاريخ، يونيورسټي بک اېجنسي پېښور، ۱۹۹۵ ء، ۱۱۹ مخ

[۲۷] همدغه کتاب، ۱۱۸ مخ

[۲۸] حبيبي، عبدالحئ، د پښتو ادبياتو تاريخ، پښتو ټولنه کابل، ۱۳۴۳ هـ، دوهم ټوک، ۲۴۳ مخ

[۲۹] دخوشحال خان ختک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۴۲۶ مخ

[۳۰] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۳۰۸ مخ

[۳۱] همدغه کتاب، ۲۸۵ مخ

[۳۲] طائر، محمد نواز،پروفيسر،ادم درخانئ يوه څېړنه، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۱ ء، ۱۲۲ مخ

[۳۳] مولوي احمد، قصه د آدم خان درخانئ، مرتبه ډاکټر خالد خان، خالد کتاب خانه حيات اباد، ۱۹۹۱، ۱ مخ

[۳٤] بادشاه روم، ډاکټر، د خوشحال په شاعرئ کښې مذکور شخصيات، د پي ايچ، ډي ناچاپه مقاله، ۵۱۸ مخ

[۳۵] ختک، خوشحال خان، فراق نامه، مرتبه زلمے هېواد مل، پښتون کور (بن) جرمني، د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره ، ۲۰۰۱، ۸۰ مخ

[۳٦] همدغه کتاب، ۱۲۰ مخ

[۳۷] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۵۹ مخ

[۳۸] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۴۲۷ مخ

[۳۹] همدغه کتاب، ۵۷۹ مخ

[٤٠] فراق نامه، مرتبه زلمے هېواد مل، ۸۰ مخ

[٤١] همدغه کتاب، ۱۲۰ مخ

[٤٢] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۵۹ مخ

[٤٣] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۴۰۸ مخ

[٤٤] همدغه کتاب، ۲۱۶ مخ

[٤٥] همدغه کتاب او مخ

[٤٦] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۵۷ مخ

[٤٧] همدغه کتاب، د مخونو ۲۲۲، ۲۳۱، ۲۳۴، ۲۵۸، ۲۵۹، ۲۶۲، لنډيز

[٤٨] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۸۵۸ مخ

[٤٩] مومند،دوست محمد خان کامل، خوشحال خان خټک ،اردو) اداره اشاعت سرحد پېښور، ۱۹۵۱،۲۳۱ مخ

[٥٠] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۵۸ مخ

[٥١] همدغه کتاب، ۲۵۹ مخ

[٥٢] د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصيات از ډاکټر بادشاه روم ۵۰۸ مخ

[٥٣] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۴۹۳ مخ

[٥٤] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۱۷ مخ

[٥٥] فراق نامه، مرتبه زلمے هېواد مل، ۱۲۱ مخ

[٥٦] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۵۹ مخ

[٥٧] فراق نامه، مرتبه زلمے هېواد مل، ۱۲۱ مخ

[٥٨] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۳۹۶ مخ

[٥٩] همدغه کتاب، ۲۵۹، ۲۶۰ مخونه

[٦٠] همدغه کتاب، ۱۱۸۰ مخ

[٦١] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۴۱۱ مخ

[٦٢] همدغه کتاب او همدغه مخ

[٦٣] همدغه کتاب، ۸۳۰ مخ

[٦٤] همدغه کتاب، ۸۵۸ مخ

[٦٥] خټک، عبدالقادر خان، ګلدسته، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۶۱ ء، ۵۰ مخ

[٦٦] خوشحال خان خټک ( اردو ) از دوست محمد خان کامل مومند، ۲۳۲ مخ

[٦٧] ګلدسته از عبدالقادر خان خټک، ۵۱ مخ

[٦٨] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۱۸ مخ

[٦٩] خوشحال خان خټک ( اردو ) از دوست محمد خان کامل مومند، ۲۳۴ مخ

[٧٠] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۳۶۵ ـ ۴۱۴ مخونو لنډيز

[٧١] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۵۹ مخ

[٧٢] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۸۹ مخ

[٧٣] د خوشحال په کلام کښې مذکور شخصيات از ډاکټر بادشاه روم، ۲۹۵ مخ

[٧٤] تاريخ مرصع، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۳۴۲ مخ

[٧٥] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۹۶ مخ

[٧٦] مشاهير مشرق از نظامي بدايوني، ۳۶۵ مخ

[٧٧] لال ،کے ايس، خلجي خاندان، مترجم محمد ياسين مظهر صديقي، فکشن هاوس لاهور، ۲۰۰۲ء ،۳۷ مخ

[٧٨] همدغه کتاب، ۲۴۳ مخ

[٧٩] همدغه کتاب، ۲۴۲ مخ

[٨٠] فراق نامه، مرتبه زلمے هيواد مل، ۸۳ مخ

[۸۱] تاريخ مرصع مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ، ۳۰۷ مخ

[۸۲] خوشحال خان خټک ( اردو ) از دوست محمد خان کامل مومند، ۱۰۶ مخ

[۸۳] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۴۶ مخ

[۸٤] تاريخ مرصع مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۰۸ مخ

[۸٥] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۶۶ مخ

[۸٦] همدغه کتاب، ۷۴۳ مخ

[۸۷] تاريخ مرصع مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۲۵۶ مخ

[۸۸] دخوشحال خان خټک کليات مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، ۵۶۶ مخ